مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله ارینزی

۲۰۲۵/۰۹/۲۶

# فراري

سره له دې چې زما عمر ان دوولسو کالو ته رسېدلی و؛ خو د خپلې مور له خوږې غېږې څخه نه لیرې کېدم. ښه مې په یاد دي هغه روځ ما د خپلې مور خوږې غېږې ته پناه وړې وه، چې د اوښکو تروه مزه مې وڅکله. کله مې چې سترګې پرانستلې، مور مې ورو- ورو ژړل او روڼې اوښکې یې په سترګو کې له ورایه ځلېدې.
زه وبیریدم. ناڅاپې مې د مور له غیږې څخه پاڅېدم او پوښتنه مې وکړه:
_ ولې مورې؟ څه تکه لویدلې چې داسې اوښکې تویوې؟
هغې څه ونه ویل او بلې خوا ته یې وکتل؛ خو ما راټینګه کړه او بیا مې وپوښتله:
_ ولې ژاړې مورې؟... ماته ووایه چې زړه مې چووي.
دا ځلې هغې په ژړه غوني غږ ځواب راکړ:
_ جګړه ده بچیه!
سره له دې چې زه د خپلې مور د خبرې په ټوله مانا پوه نه شوم؛ خو د هغې کرارې ژړا د یوه تراخه واقعیت منلو ته اړ کړم.
درې روځې وروسته موږ د کلي له جنګیالیو سره د خدای پاماني د پاره غونډ شوي وو. ډېر کلیوال د جومات په مخه کې ولاړ وو. د کور په سر یو سرې له پردیو سره د سترې جګړې د پاره تګ ته چمتو وو.
له کلي څخه اوږده کرلیچنه لار، په غره کې د جنګیالیو د پوځې اډې په لور غزېدلې وه. هلته د نورو کلیو جنګیالو هم پېنځایونه درلودل. داسې ګونګوسې و چې ستره او اوږده جګړه په مخ کې ده. څو شیبې وروسته دیرش - پنځه دېرش ځوانان او پاخه سړي له خپلو وسلو سره، د غره په لور وخوځېدل. ځینو شا ته کتل او خپل لاسونه یې د خدای پاماني د پاره خوځول.
زما پلار د تګ په وخت کې، زما مورته پټ په غوږ کې وویل:
_تګ ته مې هېڅ زړه نه کېږي... دا ډېره لویه جګړه ده ... پښې مې سمې نه ځي ... دریغې چې نه وای تللی!
مور مې په تونده ورته وویل:
_ دا خبرې ستا له خولې سره بدې ښکارې! دریغې دا مې له تا څخه نه وای اورېدلې... دا ومنه چې که زه نارینه وای، ځان به مې لس ځلې په دې جګړه کې وژلای وای...
پلار مې شا اوخوا وکتل او ورو غونډې یې وویل:
_ د جګړې خوږې خبرې ، وخت یې تریخ دی! اوس دا خبرې کوې؛ خو که ته ربښتیا زما په ځای وای، بیا دې بل شاني فکر کاوه... ګلدوست اکا وایي څوك پکې خانان شول، د چا لاړې ارتینې پکي!..
خدای ښه پوهېږي چې زما د مور او پلار مرکه به څومره اوږده وای، که د ډلي د مشر غږ نه وای جګ شوی:
_ شاګله مرکه لنډه کړه چې ناوخته شو.

ما د ډلي لار څارله. دوی په یوه لیکه کې ورو- ورو خوځېدل او په مخ تلل. لږ ډرړسته وروسته ټول جنګیالي د سترګو الونیه شول او په غونډۍ واوښتل.
سپین سرو او ځوانو ښځو بیا د دوی د پاره دعاوې وکړې او په داسې حال کې چې ځینو لا هم ورو- ورو ژړل خپلو کورونو ته ستنې شوې.
***


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

په چینو کې اوبه د پخوا په شان خوټېدې ، د لمر زرینې وړانګې همغسې پریوتې او مرغانو د پخوا په شان سندرې بللې؛ خو لږ کسان ورته هوسېدل. په کلي کې هرڅه بدل شوي غوندې ښکارېدل. ډېر نارینه جګړې ته تللي او ځینې نور په غره کې د جنګیالیو په اډه کې پراته وو. له کلیو ښځه د مستیو او خنداګانو کډې بار شوې او په ځای یې غم او چوپتیا اړولې وه.

یوه روځ جومات ته د خانګل لیك راورسېد. خانګل هم په همغه لومړۍ ډله کې تللی و. دا په تیرو دوه _ دریو میاشتو کې د پردیسیو لومړنی لیك و. خانګل ویلي و چې کلیوال ټول روغ رمټ دي او لیکلي یې و چې غلامی، نبي او جمال توره کړې او د ټولو سرونه یې هسك کړي دي . لکه چې دا درې واړه هلته ټپیان شوي وو!

لوستونکي بیا نور لیك په پټه ولوست. دوه درې ځلې یې شا او خوا وکتل او د خانګل او نورو انډیوالانو سلامونه یې خپلو- خپلو کورنیو او نورو کلیوالو ته ورسول.

دا وخت دوه دریو کسانو هڅه وکړه چې لیك تر لاسه کړي؛ خو ملا صیب په جیب کې کېښود او د اذان د پاره پاڅېد :

-- الله اکبر.... الله اکبر....

قضا ماښام و چې زه کور ته لاړم. که ګورم چې د مور سترګې تکې سرې دي او ژاړي. ما غبرګه ځینې چاپیره کړه :

_ ولې مورې؟ ... بیا څه شوي چې ژاړې؟

هغې هېڅ ځواب رانکړ او همغسې یې ژړل.

ما ورته وویل:

_ مورې ... نن د خانګل اکا او زما د پلار او نورو کلیوالو خط راغلی و . ملا صیب ټولو ته ولوست. نبي، غلامی او جمال ټپیان شوي؛ نو ته ولې ژاړې؟ زما پلارخو شکر جوړ دی.

زما مور په داسې حال کې چې ژړا یې نوره هم ډېرېده، وویل:

- دریغې ستا پلار هم ټپي وای! ... دریغې وژل شوی وای! زموږ سترګې به یې ټولو کلیوالو ته جګې کړې وې...

زه هك پك ولاړ وم او نه پوهېدم چې مور مې ولې دا خبرې کوي؟ په چرت کې ډوب شوم. دا پنځه – شپږ روځې هغه ډېره خپه وه. ډوډۍ یې نه خوړه، رنګ یې ژړ شوی و او تل به یې سترګې سرې ښکارېدې. زه ایله اوس پوه شوم چې هغه ژاړي هم ...

دا وخت په کلا کې د پاده وان ږغ شو او زه د مال خوندي کولو ته ورغلم.

ناوخته بیرته کوټې ته ستون شوم. ناڅاپه مې د مور تندی خبرې واورېدې:

_ ډوډۍ په تا حرامه ده... ته کله په حلاله ډوډۍ ارزې ؟!

_ تا داسې کار نه دی کړی چې زه به چا ته پورته وګورم. تا زموږ سترګې د تل له پاره ټیټې کړې. تا ټولو ته و شرمولو!

زه لا نه وم پوه شوی چې مور مې له چا سره خبرې کوي او ولې دومره په غوسه ده. ما ویل دا څوك دی چې دومره سپکو سپورو خبرو ته یې غوږ نیولی او هېڅ نه وایي!

دومره پوه شوم چې کوم بد کار شوی. یوه ټکه لویدلې او یو پیغور جوړ شوی دی. ناڅاپه مې یو فکر د برېښنا په څېر په ماغزو کې وځغستل:

_ نه چې پلار مې تښتی وي ؟!

دې فکر زما پښې کرختې غوندې کړې. زړه مې ټوپونه ووهل او په سترګو کې مې اوښکې راغلې.

بیا مې هم د خپلې مور خبرې واورېدې:

_ زما او ستا په پلار نیکه کې؛ خو چا داسې بې غیرتي نه وه کړې. دا چم تا چېرته او له چا زده کړی دی؟

لکه چې کوم نارینه هم څه وویل؛ خو غږ یې دومره ټیټ و چې ما هېڅ وانهورېدل.

مور مې بیا هم وژړل.

_ ښه دې ټولو ته وشرمولو. زه به د ښځو له پیغورونو اوبه شم.. او زوی به دې تر مرګه پورې چا ته جګ ونه ګوري. داسې بې غیرتي دې خدای د چا دښمن ته نه پېښوي. نن وې که سبا خلك خبرېږي. یا به څوك راشي او یا به خط راورسېږي، چې شاګل له جګړې ښځه تښتي او کور ته تللی دی. ته به ترکله پورې دلته پټ ناست یې؟

اوس نو زه په موضوع پوره پوه شوم. په سترګو مې توره شپه شوه، سرمې وچورلېده او د کلي د ملا د پرونیو کړو په مانا پوه شوم، چې مازدیګر مهال یې د ګل خان د لیك لږ برخه ونه لوسته او شا او خوا یې وکتل. زه ایله اوس پوه شوم چې کله د ملا صیب سترګې په ما ولګېدې، لږ چورتي غوندې شو!

زما خپلې مور ته ډېره خوا بده شوه او په ځان مې هم زړه وسوزېد. ځان را ته بې غیرته او د پیغور وړ ښکاره شو. ټول وجود مې په خولو کې لوند شو. زړه مې وغوښتل چې په خپل پلار خوله ولګوم ...

بیا د خپلې مور ژړا او خبرو ته ځیر شوم:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

_ زه دې نور په کور کې نه شم پټولای، ته غیرتي نه لرې. وطن پردو نیولی. خلك په سیالیو جګړو ته ځي؛ خو ته میدان پرېږدې او کور ته راځې... زما پوړنی د لویدلو په حال کې دی خدایه!
د مور خبرو ډېر په غوسه کړم. زړه مې وغوښتل چې کوټې ته ودانګم او خپل پلار تر ستوني ونیسم. زړه مې وغوښتل چې زموږ هغه لویه چاړه د ده په ګوګل کې ښخه کړم چې د مور زړه مې پرې یخ شي.
بیا مې هم د خپلي مور غږ تر غوږه شو:
- زه همدا اوس کلي ته وځم او ناري وهم چې په خلکو شاګل راتښتی او کور ته راغلی دی. خلك هسي هم خبرېږي. دا به ښه وي چې زه يي خبر کړم. نور مې زړه پرک چووي. که زه دا کار ونه کړم سبا به د کلي ښځو هسي هم خبرېږي ... زه نور دا د ټیټو سترګو غلا نه شم کولای. ستا تیښته یو شرم دی او دا چې ته په کور کې پټ یې دا بل شرم!
دا وخت زه هم په کوټه رننوتم. پلار مې په هغه کونج کې ډېر بیوزلی ناست و. د کوټي په مخامخ دیوال ټوپک ځوړند و. زه ټوپک ته ځير شوم او زړه مې وغوښتل چې هغه لوی جاغور يي په پلار تش کړم!
مور او پلار مي هم ټوپک ته ځير شول.
_ نور مي مه ځوروه... ستا خبرو لکه د تورو ګذار داغ داغ کړم. زه همدا اوس بېرته ځم!
زما د مور وچولی وغوړېد:
_ ځه خدای دې په مخ توره شپه کړه، ته د دعا وړ نه یې!
پلار مي وژړل:
_ بس کړه نو، زه ځم او تر څو چي ژوندی یم بېرته نه راځم .
مور مي خپل پوړنی په سر سم کړ او خوشاله غوندې شوه:
_ دريغی ته داسي وکړې. په ما، په ځان او اولاد دې ورحمبړه. په همغه لاره چي راغلی يې، بېرته ستون شه؛ خو پام چي څوك دې و نه ويني!
ماښام مهال پلار ټوپک پورته کړ، له کوره ووت، د ژور لار يي ونيوه او له سترګو الونیه شو.

پای
١١/٤/١٩٩٤
حيات آباد- پېښور


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ